۶۱

# ملي هيلې اونيزه

هفته نامه

د ولس ريښتينې هيلې

شپږم کال

د ۱۳۹۶ لمریز کال د سلواغې (دلو) د میاشتي لومړۍ نېټه

درنو لوګريانو!

د لوګر ولایت له پوهنتون څخه د لومړي ځل لپاره د ۵۹ تنه ښځینه او نارینه محصلینو د فراغت مبارکي ټولو لوګریانو او د فارغیو شویو محصلینو کورنیو ته وایم. د ویاړ ځای ده چې سږکال د هغه پوهنتون څخه زدکړیالان فارغیږي چې په لومړي ځل مې د حامد کرزی حکومت په دوره کې امر ورته واخیست او تر اوسه پورې مو ورته منډې تړړې کړې ترڅو دغه پوهنتون لکه د نورو ولایتونو پوهنتونو سره معیاري او برابر کړو. زمونږ هڅه همدادی چې لوګر د علم کور دی او باید د خپل بچیانو د روزنې لپاره خپل مسؤلیت وګڼو ترڅو دوی لپاره د زدکړې زمینه برابره کړو. یو ځل بیا ټولو ته مبارکي وایم او دا ژمنه کوم چې د خپل وس او توان په مطابق د لوګر پوهنتون د ودانولو په برخه کې به نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کوم.

په درنښت

الحاج محمداکبر ستانکزی

په ولسي جرګه کې د لوګر ولایت استازی





# لوګر پوهنتون څخه د لومړي ځل لپاره ۵۹ محصلین فارغ شول







لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې له پوهنځي څخه د لومړي ځل لپاره ۵۹ محصلین چې ۲۲ يې انجونې وې فارغ شول او فراغت غونډه يې تر سره شوه. دغه غونډه چې په شاندارو مراسمو د(ځان وړی کوو خو پوهنتون ابادوو) تر نامه لاندې د لوګر ولایت ښاروالی په تالار کې جوړه شوې وه پکې د لوګر والي محمد حلیم فدایي، په ولسي جرګه کې د لوګر د خلکو استازي انجنیر صاحب خان، د ولایتي شورا ریس حسیب الله ستانکزي ، د ولایتي شورا مرستیال داکتر عبدالولي وکیل، په افغانستان کې د ملي ثبات د ټولنې مشر ضیاالحق امرخیل، د لوګر امنیه قوماندان لوی پاسوال عصمت الله علیزي او ګڼو ولایتي چارواکو ګډون کړی وو... پاتې ۲ مخ





## جمهور رئیس محمد اشرف غني د الحاج محمد اکبر ستانکزي سره ټلیفوني خبرې وکړې

د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس محمد اشرف غني د مرغومی د میاشتي په پنځمه نیټه ماښام مهال په ولسي جرګه کې د لوګر ولایت د خلکو له منتخب استازي الحاج محمد اکبر ستانکزي سره په ټلیفوني اړیکه کې د وروستی پیښې په تړاو خپله ژوره خواخوږي او د ډاډګیرنې مراتب وړاندې کړ.

په دغې ټلیفوني اړیکه کې جمهور رئیس غني د ستانکزي د روغتیا پوښتنه وکړه او وویل چې ملي امنیت ته يې دنده سپارلې تر څو پدې تړاو تحقیقات ترسره کړي... پاتې ۲ مخ

## د لوګر اوسیدونکي د وخت تیرو او بې کیفیته درملو له پلور څخه سر ټکوي



د لوګر ولایت اوسیدونکي وایي چې په دې ولایت کې د وخت تیرو او بې کیفیته درملو پلور زیات شوی او خلک يې له بیلابیلو ناروغیو سره مخ کړي دي. د افغانستان د نورو ولایتونو ترڅنګ د لوګر ولایت اوسیدونکي وایي چې په دې ولایت کې وخت تیرو درملو خلک له بیلابیلو ناروغیو سره مخ کړي او درملو يې کومه ګټه نه دی ورته کړې . د لوګر اوسیدونکی ګل محمد چې له لرې پرتې سیمې څخه د لوګرښار درملتونونو ته راغلی وایي چې څو ځله ډاکترانو ته راغلی او درملو يې کومه ګټه نه ده ورته کړې. ګل محمد دا هم وویل چې د ډاکټرانو د درملو کیفیت خراب دی او درمل پلورونکي درمل په لوړ قیمت پلوري... پاتې ۲ مخ

## د لوګر ولایت د کار ټولنیزو چارو شهیدانو او معلولینو ریاست د حرفوي زده کړو ودانۍ ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه



د لوګر ولایت د کار ټولنیزو چارو شهیدانو او معلولینو ریاست د حرفوي زده کړو دوه پوړیزه ودانۍ چې څه کم ۲۰ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راغلی ، د یوې غونډې په ترسره کولو سره ګټې اخیستنې ته و سپارل شوه.دغه غونډه چې د لوګر ولایت د کار ټولنیزو شهیدانو او معلولینو ریاست اړوند د حرفوي زده کړو ودانۍ په انګړ کې جوړه شوې وه په کې د کار ټولنیزو شهیدانو او معلولینو چارو وزیر فیض الله ذکي،د لوګر والي محمد حلیم فدایي،د یاد وزارت ارشد مشاورعبدالقیوم ذاهدي، د وړکتونونو عمومي رییسې جمیلې نورستانۍ، د مهارتونو د غوړیدا عمومي ریس نعمت الله عاطف، د ټولنیزو تامیناتو ریسې مریم زرمتۍ، د لوګر د ولایتي شورا ریس حسیب الله ستانکزي او غړو ... پاتې ۲ مخ

## لوګر کې په سلګونو ماشومان په درنو کارونو بوخت دي



د لوګر مرکز پل‌علم په لویو لارو کوڅو او مارکیټونو کې لسګونه ماشومان په درندو کارونو بوخت دي چې د کم مزد په بدل کې له سهاره تر ماښامه د خلکو درانه پیټې چلوي او له دې لارې کورنۍ ته یو مړۍ ډوډۍ پیدا کوي. ځېنو دغو ماشومانو سلام وطندار ته وویل چې د بیوزلۍ او ناچارۍ دغه درانه کارونه کوي. دولس کلن خلیل‌الله او مسافر خان وایي چې په کور کې د ګټې - وټې څوک نه‌لري مجبور دي چې کار وکړي او د کور اقتصادي بوج په کمکیني وجود په غاړه واخلي. دوی وایي، په شین سهار د دې پر ځای چې د زده‌کړو پر خوا لاړ شي؛ د کار پر لور ځي او ټوله ورځ د کمو پیسو په بدل کې پردي بارونه په اوږو وړي. دوی له دولته غواړي چې د کار ترڅنګ ورته د زده‌کړو زمینه برابره کړي... پاتې ۲ مخ

کوثر
KAWSAR
KENGINEERING

شرکت انجینری کوثر
KAWSAR ENGINEERRING PVT LTD

تولید کننده پایپ های پی وی سی، پی وی سی فتنګ،پی پی آر سی پایپ
پی پی آر سی فتنګ، اچ دی ای پی پایپ و پمپ های دستی با استندرد بین المللی
آدرس فابریکه: بګرامی، متصل تانګ تیل یوسفزی، کابل
شماره تماس: 0777-323424 - 0799-855512 - 0777-479999

## جمهور رئیس محمد اشرف غني...

جمهور رئیس غني د ستانکزي د یو تن ساتونکي د شهادت له کبله هغې ته د لوی خدای ج له دربار څخه د جنت الفردوس غوښتنه وکړه او زیاته یې کړه چې د شهید کورنۍ ته به د مرستې امر ورکړي. همداراز الحاج محمد اکبر ستانکزي جمهور رئیس محمد اشرف غني ته د پیښې په تړاو معلومات شریک کړل او د هغه له خواخوږۍ او ډاډګیرنې څخه یې مننه وکړه. د ویلو ده چې د روان کال د مرغومي د میاشتې په لومړۍ نیټه ستانکزی د جمعې مبارکې ورځې د لمانځه او ځینو پروژو د پلي کولو او نظارت په منظور خپل کلي پادخواب شاني ته روان وو چې د مخالفینو له کمین سره برابر شو او تر نیم ساعت جګړې وروسته دده یوتن ساتونکی په شهادت ورسید او دوه تنه د ملي اردو سرتیري ټپیان شول چې له هغې وروسته دغه پیښنه د چارواکو له خوا په کلکو ټکو سره وغندل شو.

**مطیع الله "سرور"**

## لوګر پوهنتون څخه د لومړي...

د لوګر پوهنتون ریس وحیدالله عبدالرحیمزي په پیل کې د غونډې ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترځنګ د دغه پوهنتون فارغو شویو محصلینو د دوی کورنۍ او د لوګر ټولو اوسیدونکو ته د نویو فارغ شویو محصلینو د فراغت مبارکي وویله او ویې ویل چې د لوګر پوهنتون په ۱۳۹۳ هـ ش کال د ثور د میاشتې په ۲۴ ایجاد شوی او په همدغه کال یې محصلین جذب کړي چې دامګړی ۷ ودانۍ او ۵۰۰ جریبه ځمکه لري. عبدالرحیمزي د یاد پوهنتون د پرمختګونو په اړه هم مالومات ورکړل چې په تیرو دریو کلونو کې ۷ تعمیرونه جوړ شوي او پوهنتون ته د تګ راتګ لپاره سړک او د پوهنتون چاپیره دیوال د پلان جوړول او ډیزاینول دي. عبدالرحیمزي همدا راز د لوګر ولایت له والي او په ولسي جرګه کې د لوګر له وکیلانو مننه وکړه چې د پوهنتون په تاسیس کولو او جوړولو کې له دوی سره مرسته کړې . د ولایتي شورا ریس حسیب الله ستانکزي ، ددغې شورا مرستیال داکتر عبدالولي وکیل هم دغو فارغو شوو محصلینو او د لوګر اوسیدونکو ته مبارکي وویله او له هغو چارواکو یې مننه و کړه چې د پوهنتون په ایجادولو او ابادولو کې هلې ځلې کړي دي. د ولسي جرګې غړي هم د لوګر اوسیدونکو ته د مبارکۍ تر څنګ وویل چې مونږ د ولسي جرګې وکیلانو د انتخاباتو په وخت کې څلور ژمنې کړې وې چې هغه د دوه سړکه جوړول ، د برق راتګ ، او د پوهنتون راوستل وو چې دا دی په پوره صداقت سره مو سر ته رسولي دي. همدا راز د ملي ثبات ټولنې مشر ضیاالحق امرخیل هم د لوګر ولس ته خپلې مبارکیانې وویلې او له یادو محصلینو یې و غوښتل چې یواځې په لسانس اکتفی و نه کړي ماسټري او دوکتورا لپاره هم هڅې و کړي . امر خیل دا هم وویل چې د داسې یوو مشر پلوي وکړئ چې ملي ګټو ته ژمن وي نه د خپلو ګټو لپاره ملي ګټې زیانمنوي. د لوګر والي محمد حلیم فدایي هم غونډې ته وینا کوله وویل چې دی به دغو ۵۹ محصلینو ته چې فارغ شول دنده پیدا کوي او د یوو سیمینار لپاره به یې بهرني هیواد ته استوي چې تر څو د هغه هیواد د خلکو کړنې و ګوري او نوې تجربې هیواد ته راوړي.

والي (ځان وړی کوو ، خو پوهنتون آبادوو) د خپل اساسي پیغام په توګه یاد کړ.او د خبرو په پای کې یې د ځان لخوا د فراغت غونډې د دوډۍ لپاره ځانګړې شوې ۹۶۰۰۰ افغانۍ د پوهنتون سره مرسته وکړه تر څنګ یې د محصلینو په استازیتوب یو تن محصل د استادانو د تحفو لپاره ځانګړې شوې ۱۶۵۰۰ افغانۍ له پوهنتون سره مرسته وکړه. د غونډې په پای کې فارغ شوو محصلینو د لوړو زده کړو وزارت بیرغ د علمي میراث په توګه ډالۍ کړ.

**محمد عارف "ویسا"**

## د لوګر ولایت د کار ټولنیزو چارو شهیدانو ...

د لوګر ولایت د کار ټولنیزو شهیدانو او معلولین چارو ریس شاه محمد ولي زوی او ګڼو ولایتي چارواکو ګډون کړی وو. غو نډې ته د لوګر ولایت د کار ټولنیزو شهیدانو او معلولینو چارو ریس شامحمد ولي زوی په خپلو ویناوو کې وویل دغه ودانۍ دوه دفتري خونې ، دوه درسي خونې ، یو هال ، کتابتون ، ورکشاپ ، خوړنزی او څلور تشنابونه چې په دوه پوړونو ، شپږ بسوې ځمکه کې چې ټوله احاطه یې ۵۲۸۰ متره مربع دی ، د کار ، ټولنیرو چارو ، شهیدانو او معلولینو وزارت د (NSDP) برنامې له لوري د فرهاد اکبري شرکت لخوا د ۹ میاشتو او ۱۵ ورځو په موده کې جوړه شوې ده. د معیوبینو په نمایندګۍ یو تن معیوب حاجي صابر خبرې وکړې وویل چې باید د معیوبینو معاش لوړ شي او معیوبینو سره په هره برخه کې مرستې و شي . د کار ټولنیزو شهیدانو او معلو لینو چارو وزیر فیض الله ذکي د لوګر ولایت ټولو اوسیدونکو ته د دې ودانۍ د مبارکۍ ترڅنګ وویل چې په راتلونکي کال کې به ددې روزنیز مرکز ځانګړې نورې هم زیاتې کړي او په راتلونکو څو ورځو کې به د شهیدانو ورثه هم بایمتریک شي ترڅو د فساد مخه و نیول شي. ذکي د لوګر له

والي څخه غوښتنه و کړه چې له یاد مرکز څخه فارغ شویو کسانو ته نه تنها په دولت بلکې په خصوصي سکتور کې هم دندې ورکړي. د لوګر والي محمد حلیم فدایي د کار ټولنیزو شهیدانو او معلولینو چارو له وزیر او ټول ټیم څخه د مننې تر څنګ په لوګر کې د یاد وزارت اړوند ریاست کړنې وستایلې او معیوبینو ته یې د ممتازو خلکو لقب ورکړ. فدایي همدا راز وویل هغه کسان چې له یاد حرفوي مرکز څخه فارغ شوي په دولت کې به د ضرورت په اساس دنده ورکړي. د لوګر د ولایتي شورا ریس حسیب الله ستانکزي د لوګر له والي محمد حلیم فدایي څخه مننه وکړه چې د غصب ځمکه له غاصبینو ګرځوي او دولتي ریاستونو ته پکې ودانۍ جوړوي. ستانکزي همدا راز د کارټولنیزو شهیدانو او معلولینو له وزارت څخه غوښتنه و کړه چې په لوګر ولایت کې د دوی اړوند ریاست تشکیل زیات کړي تر څو په لوګر کې د شهیدانو د ورثې او معیوبینو پر وړاندې ستونزې کمې شي. هیره دې نه وي چې له دغه حرفوي مرکز څخه ۱۰۰ تنه زده کوونکي چې ۲۸ په کې انجونې وې له بیلابیلو څانګو څخه فارغ شول . دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې دغه حرفوي مرکز ودانۍ نه لرله او په کرایي کورونو کې زده کوونکو خپلې زده کړې کولې .

**محمد عارف "ویسا"**

## لوګر کې په سلګونو ماشومان ...

د لوګر د کار ، ټولینزو ، شهیدانو او معلولینو چارو ریاست د ماشومانو درانه کارونه اندېښمنوونکي بولي. د دې ریاست رییس شاه‌محمد ولیزوی سلام وطندار ته وویل ، د فقر او بېوزلۍ له امله ماشومان اړ شوي چې د یوې مړۍ ډوډۍ لەپاره له سهاره تر ماښامه په کوڅواو واټونو کې درانه کارونه وکړي. د افغانستان د کار ، ټولنیزو ، شهیدانو او معلولینو چارو وزیر فیض الله ذکي سلام وطندار ته وویل چې اوسمهال په ټول هېواد کې له ۲،۷ میلیونه کم‌عمره ماشومان پر درنو کارونو بوخت دي. دی د دې شمېر ماشومانو د کار علت وروستۍ جګړې ، ګډوالي او بېوزلي ګڼي. ښاغلي ذکي زیاته کړه ، د دې ستونزې د حل لەپاره یې د دولت له ټولو څانګو سره خپل پلانونه شریک کړي چې هره څانګه پەخپله برخه کې د ماشومانو خوندیتوب په پار هڅې ګړندۍ کړي. دا داسې مهال دی چې له ۲۰۰۱ کال راهیسې په هېواد کې د ماشومانو خوندیتوب او د دوی ژوند ښه کولو لەپاره په لسګونو کورنیو او بهرنیو مرستندویه موسسو کار کړی ؛ خو بیا هم میلیونونه ماشومان په درنو کارونو بوخت دي ، چې ځینې یې د انساني قاچاق او جنسي تېري ښکار شوي هم دي.

**سلام وطندار**

## د لوګر اوسیدونکي د وخت تیرو ...

ګل محمد وویل:"خو ځله د ځان درد لپاره د لوګر شخصي درملتونونو ته راغلی یم خو د دوی د درملو کیفیت خراب دی هیڅ کومه فایده نه راته کوي ، او بل دا چې ډاکټران درملې په لوړ قیمت پلوري". ګل محمد له دولت څخه غوښتنه وکړه چې په درملتونونو څار او د درملو قیمت کنترول کړي. همدا راز د لوګر یو بل اوسیدونکي نذیر احمد له ملي پیوند راډیو سره په خبرو کې وویل چې په یاد ولایت کې اوس مهال د درملو کیفیت د پخوا په پرتله ښه شوی او قیمت یې ډیر لوړ دی. نذیراحمد وویل:"د پخوا په پرتله اوس یو څه اندازه د درملو کیفیت ښه شوی خو قیمت یې ډیر لوړ دی ، او بل دا چې درملې په غیر قانوني ډول له ګاونډي هیواد پاکستان څخه وارديږي چې کیفیت یې خراب او قیمت یې لوړ دی". نذیر احمد همدا راز وویل چې اکثره درمل له ګاونډي هیواد پاکستان څخه په غیر قانوني ډول وارديږي او دولت یې باید مخه و نیسي . داچې د درملتونونو مالکین ولې درمل په لوړ قیمت پلوري او کیفیت یې ټیټ دی په دې اړه مو د لوګر ولایت د درملتونونو د اتحادیې له مشر داکټر محب الله سره خبرې وکړې هغه وویل شاوخوا اوو کاله کیږي چې د دغې اتحادیې مشر دی او زیاته هڅه یې کړې چې په لوګر کې داسې درملتونونه پرانیزي ترڅو خلک اړ نه شي کابل یا بل ځای ته د درملو د پیرلو لپاره ولاړ شي . محب الله زیاته کړه په لوګر کې د عامې روغتیا ریاست چارواکي په درملتونونو څار کوي اوهغوی د څو کلونو وخت تیرې درملې ټولوي او سوځوي یې. داکټر محب الله وویل:"مونږ تل هڅه کړې تر څو په لوګر ولایت کې داسې درملتونونه پرانیزو ترڅو خلک کابل او یا بل ولایت ته د درملو د پیرلو لپاره اړ نه شي ، دولت تل په درملتونونو څار کوي بې کیفیته او وخت تیرې درملې ټولوي او حریق کوي یې". محب الله همدا راز وویل په ځینو درملولیکل شوی قیمت د اعتبار وړ نه وي ، هغه په لوړ او یا ټیټ نرخ د درملتونونو مالکان اخلي چې خپل ۱۵ سلنه ګټه ورسره جمع کوي او پلوري یې . دا چې په درملتونونو دولت څار کوي او که نه په دې اړه مو د عامې روغتیا له مشر ډاکټر رسول ګل ثمر سره خبرې وکړې هغه وایي چې دوی په لوګر کې په درملتونونو څارکوي او څو ځله یې وخت تیرې او بې کیفیته درملې ټولې کړي او اوس هم د عامې روغتیا په ریاست کې ستاک شوي چې په راتلونکو وختونو کې به وسوځول شي. د عامې روغتیا مشر همدا راز وویل چې فارمسستان حق لري ۱۵ سلنه ګټه وکړي که چیرې له دې نرخ څخه یې لوړ پلوري له قانون څخه سرغړونه ده او قانوني چلند به ور سره کیږي. ثمر وویل :"مونږ تل دا هڅه کړې چې په درملتونونو څار وکړو وخت تیرې او بې کیفیته درملې ټولې کړو ، او ټولې کړې مو دي چې د مطبوعاتو په مخ کې به وسوځول شي بل دا چې مونږ ښار ته تللي یو هلته مو د خلکو د درملو بیلونه چک کړي دي هغه مومقایسه کړي خو کوم توپیر نه دی په کې لیدل شوی". ثمر دا هم وویل چې دوی څو ځله تللي ، له خلکو څخه د درملو بیل اخیستی اوهغه یې مقایسه کړې چې کومه ستونزه نه وه پکې . دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د لوګر اوسیدونکي د وخت تیرو او بې کیفیته درملو له زیاتیدو څخه شکایت کوي.

**محمد عارف "ویسا"**

## مشرانو پر ستانکزي برید ، په ملت برید وباله



په ولسي جرګه کې د لوګر استازي الحاج محمداکبر ستانکزي د خپل ساتونکي د شهادت په فاتحه او قرآن کریم ختم کې ګډون وکړ او همداراز په خپل استوګنځي کې یې له چارواکو او هیوادوالو سره لیدنه وکړه. ډاکټر محمدآصف صدیقی د سنا مجلس دویم مرستیال ، الحاج صاحب خان او علی محمدشهیدی په ولسي جرګه کې د لوګر استازو ، ستانکزي ته د هغه د یو ساتونکي د شهادت امله تسلیت وړاندې کړ او پر ستانکزي برید یې په سختو ټکو وغندل. همدارنګه قومي مشرانو او ځوانانو هم د پیښې شهید ته د جنت الفردوس دعا ، او خواخوږي څرګنده کړه. ډګرجنرال محمدسالم احساس د ۱۰۱ آسمایی زون قوماندان د ولسي جرګې د استازې الحاج محمد اکبر ستانکزي کورته ته تشریف یووړل او پر نوموړې برید چې د پادخواب شانې سیمه کې وربانديې شوی وو وغندل او د ستانکزي د روغتیا پوښتنه یی وکړه. جنرال احساس د ستانکزی د یوتن ساتونکي د شهادت له کبله فاتحه یی وکړه او ده سره یی د پیښی په تړوا خپله غمشریکی څرګنده کړه. د پیمان خیریه بنسټ خپله غمشریکي له الحاج محمد اکبر ستانکزي سره شریکه کړه د پیمان خیریه بنسټ مسوولینو په ولسي جرګه کې د لوګر د خلکو د استازي او د پیمان خیریه بنسټ د اجرائیوي چارو مرستیال الحاج محمد اکبر ستانکزي د شهید شوي ساتونکي په فاتحه کې ګډون وکړ. د پیمان د خیریه بنسټ یو شمېر مسوولین په ولسي جرګه کې د لوګر د خلکو او د پیمان خیریه بنسټ د اجرائیوي چارو مرستیال استازي الحاج محمد اکبر ستانکزي دفتر ته ورغلي وو. په دې لیدنه کې د پیمان خیریه بنسټ چارواکو د نوموړي د شهید شوي ساتونکي فاتحه وکړه او هم یې خپله غمشریکي او خواخوږي له ښاغلي ستانکزي سره شریکه کړه. د لوګر د کلیو پراختیا ریاست مشرتابه ، په ولسي جرګه کې د لوګر استازي الحاج محمداکبر ستانکزي سره لیدنه وکړه. د لوګر د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریس عاشق الله اخلاص یار ، ستانکزي ته د هغه د یو ساتونکي د شهادت امله تسلیت وړاندې کړ او پر ستانکزي برید یې په ملت برید وباله. ستانکزي ته د لوګر د وروستنیو انکشافي پر مختګونو او ستونزو په اړه مالومات ور کړل شول چې په یو لړ چارو کې د مرستې غوښتنه وشوه. ستانکزي پخپلو خبرو کې د لوګر د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست د چارو څخه مننه وکړه چې د یادې اداري کارکوونکي د لوګر د ولسونو د پاره کار کوي. نوموړي د پاخواب سرک په اړه اندیښنه ښکاره کړه چې کار چارې یې بې کیفیته دي او تخنیکي انجنیران هم پکې په نشت حساب دي. د اړونده ادارې د ریس له لورې ډاډ ورکړل شو چې که کار چارې یې د یوې اونۍ په ترڅ کې په انجنیري اصولو برابرې نکړې نو د یاد سړک تسلیمي به شرکت ته ورنکړي ، همدا ډول په نورو چارو کې هم د مرستې او کارکولو ډاډ ورکړل شو. همداراز د لوګر ولایت قومي مشرانو ، ګڼو دولتي چارواکو او ځوانانو له الحاج محمد اکبر ستانکزي سره لیدنه و کړه. په دغه لیدنه چې د ستانکزي په ولایتي دفتر کې تر سره شوه په کې دلوګر ولایت د ښارنوالی ریس عبدالولي خیري ، د ولایتي شورا غړیو محمدناصر غیرت او قسیم خوشیوال ، د امنیه قوماندانی د جنایي څانګې کارکوونکو ، قوماندان لشکر حسین خیل جهادی مشر او ګڼو قومي مشرانو ګډون کړی وو. یادو چارواکو او قومي مشرانو شهید ته د جنت الفردوس دعا ، او خواخوږي څرګنده کړه. د یو بل خبر له مخې د لوګر امنیه قوماندان لوي پاسوال عصمت الله علیزي ، الحاج محمد اکبر ستانکزي سره لیدنه وکړه. علیزي د فاتحې ترڅنګ خپله خواشیني د پیښې په اړه څرګنده کړه او زیاته یې کړه چې ولس باید د پروژو څخه ملاتړ وکړی. امنیه قوماندان وویل چې ستانکزی خپل کلي ته د پروژو د پلي کولو په موخه ورغلی وو دا څرګنده شوه چې د هیواد دښمنان نه غواړي زمونږ هیواد پرمختګ وکړي او په داسې کړنو سره زمونږ روحیه د هیواد جوړونې څخه نشي راګرځولی. همداراز د لوګر مشرانو ، دولتي چارواکو او ځوانانو له الحاج محمد اکبر ستانکزی سره لیدنه وکړه په دغو لیدنو کې نوموړو د ستانکزی د یوتن ساتونکي د شهادت له کبله فاتحه یی وکړه او ده سره یی د پیښی په تړوا خپله غمشریکی څرګنده کړه. لوګر والی محمد حلیم فدایی ، ښاروال نصیر احمدلليزی ، د شکار قلعه د قطعی قوماندان حشمت الله ، د څلورمې لوا قوماندان بریدجنرال عبدالرازق ، د ګارنیزیون قوماندان ، د کرنې ریس ، د ټولګټو ریس ، د شهدا او معلولینو ریس ، د قومونو او قبایلو چارو ریس ، د مستوفیت مشر ، د برکی برک ولسوال او امنیه قوماندان برسیره ګڼ شمیر اوسیدونکو خپله غمشریکی او خواخوږی څرګنده کړه. د لوګر والي محمد حلیم فدایي لوګر کې د ولسي جرګې د استازې الحاج محمد اکبر ستانکزي دفتر ته ورغی او د نوموړي د هغه برید چې د پادخواب شانې سیمه کې وربانديې شوی وو ، څرنګوالې او د نوموړي د روغتیا پوښتنه وکړه. یاد برید یې وغندلو او زیاته یې کړه چې د ولس د استازو په مرسته به د تلپاتي امنیت لپاره په ګډه کار کوو. د لوګر والي سره د ولسي ملاتړ مشاور ، د سرحدونو او قبایلو چارو او کار او ټولنیزو چارو ریسان هم حاضر ول.

باران میډیا ګروپ

## په لوګر کې د یوه ښوونځي لپاره ځمکه وقف شوه

د لوګر ولایت مرکز پورې اړوند پادخواب شانې سیمه کې د یوه ښونځي د جوړولو لپاره ددغې سیمې د خلکو له لوري ځمکه ډالۍ شوه. دغه یو جریب ځمکه چې د سیمې د خلکو له لوري ورکړل شوې د الحاج محمد اکبر ستانکزي په نوم د نجونو او هلکانو لپاره ښوونځي ته پکې ودانی جوړیږي. د لوګر د پوهنې ریاست د مطبوعاتو مسول محمد شاپور(عرب) وایي چې دغه ښوونځی د ۱۳۹۵ هـ ش کال په حمل میاشت کې تاسیس شوی وو ، په یوه شخصي کور کې فعالیت کاوو. عرب زیاته کړه یاد ښوونځی دامګړې ۳۰۰ زده کوونکي لري چې ۱۴۰ یې په کې نجونې دي او په راتلونکي پسرلي کې به دغه کچه نوره هم لوړه شي . همدا راز د پادخواب شانې د کلي اوسیدونکي وایي چې دوی یاده ځمکه د جومات لپاره وقف کړې وه خو وروسته د قومي مشرانو د پریکړې په اساس ښوونځي ته ورکړل شوه. دا په داسې حال کې ده چې په روان کال کې لس جریبه ځمکه نوره هم بیلابیلو ښوونځیو ته وقف شوې ده.


اقرارخط اهدا زمین ازطرف مردم برای اعمار مکتب

**عبدالله "عرب"**

## د لوګر د څرخ او خروار په ولسواليو کې دولتي اداري غېرې فعالې دي




د لوګر د څرخ او خروار ولسوالۍ اوسېدونکي شکايت کوي چې په يادو ولسواليو کې دولتي اداري غېرې فعالې دي او د پېژندپاڼو په ګډونو نور خدمتونه خلکو ته نه وړاندې کېږي. د څرخ يو اوسېدونکی چې مرکز پل علم ته د تذکرې اخستلو لپاره راغلی وو ، ووېل ، په څرخ کې دولتي اداري فعاليت نه کوي ، په څرخ کې يوازې امنيتي پوستې پرتې دي چې د ولسوالۍ او پوستو ساتنه کوي. د لوګر د ولايتي شورا مرستيال ډاکټر عبدالولي وکيل هم مني چې ولايتي اداره په څرخ او خروار ولسواليو کې نده توانېدلې په سم ډول خدمات وړاندې او خپلې اداري فعاله وساتي. د مالوماتو له مخې ۴ مياشتې کېږي چې خروار ولسوالۍ ته ولسوال ندی تللی ، د خروار اوسېدونکی وايي ، ولسوالۍ د يوې پوستې په بڼه شتون لري چې هېڅ ډول خدمات خلکو ته نه وړاندې کوي. د لوګر د والي وياند سليم صالح وايي ، د امنيتي ستونزو له امله ندي توانېدلي چې په ولسواليو کې خلکو ته پېژندپاڼې ورکړي ، نوموړی وايي ، د څرخ د خلکو په خوښه يې د تذکرو اداره مرکز پل علم ته رالېږدولې. د څرخ اوسېدونکي غوښتنه کوي چې مرکز پل علم کې د پېژندپاڼو د ورکولو اداره په يوه څرګند ځای کې پرانيزي تر څو خلک د تذکرو د ادارې په لټولو پسې ستړي نشي. د لوګر امنيه قوماندان لوی پاسوال عصمت الله عليزی وايي ، د تېر کال په پرتله سږ کال په څرخ او خروار کې امنيت ښه وو او د لويو بريدونو مخه نيول شوې ده.

حکمت الله "واقد"

## په لوګر ولايت کې د اساسي قانون د څوارلسمې کليزې په مناسبت يو تالار د اساسي قانون په نوم ونومول شو




په لوګر ولايت کې د اساسي قانون د څوارلسمې کليزې او د اساسي قانون د اونۍ په مناسبت يو ۲۰۰۰ کسيز تالار د اساسي قانون په نوم ونومول شو. په همدې مناسبت د لوګر ولايت په مقام کې غونډه جوړه شوې وه چې په کې د لوګر والي محمد حليم فدايي ، د ولايتي شورا ريس حسيب الله ستانکزي ، دلوګر د استيناف محکمې مشر حقيق الرحمن حقمل ، امنيه قوماندان لوی پاسوال عصمت الله عليزي او ګڼو ولايتي چارواکو ګډون کړی وو. د لوګر د استناف محکمې مشر حقيق الرحمن حقمل وويل چې ټول افغانان د قانون تر چتر لاندې ژوند کوي او اساسي قانون د ټولو قوانينو مور دی. حقمل همدارازوويل چې قانون ته په هره ټولنه کې په زياته اندازه ضرورت شته ، او په افغانستان کې اساسي قانون د اسلام د سپيڅلي دين په رڼا کې جوړ شوی. د ولايتي شورا ريس حسيب الله ستانکزي وويل ، په هره ټولنه کې چې قانون نه وي هغه ټولنه له بد بختيو سره مخ وي او هر قانون داساسي قانون په رڼاکې جوړيږي. ستانکزي همدا راز له والي څخه مننه وکړه چې ياد تالار يې د اساسي قانون په نوم و نوماوو او له نوي نسل څخه يې غوښتنه وکړه چې قانون ته غاړه کېږدي. د اطلاعاتو او کلتو ريس محمد شفيق پوپل هم د قانون په اړه خبرې وکړې او ويې ويل چې مونږ بايد اساسي قانون ته ژمن و اوسو. د لوګر والي محمد حليم فدايي وويل ،انسان يو اشرف مخلوق دی ، په ټولنه کې ژوند کوي او يو لړ قوانينو ته اړتيالري چې قانون هم ورته جوړ شوی چې بايد ورته ژمن و اوسي. فدايي همدارازوويل هيڅوک نشي کولای چې زمونږ قانون چلنج کړي ، او د افغانستان اساسي قانون د اسلام سپيڅلي دين په رڼا کې جوړ شوی. والي دا هم وويل چې قانون د ټولنې اوسيدونکو او دولتي چارواکو ته حدود ټاکي او د لوګر ولايت ټولو رياستونو ته يې دنده وسپارله تر څو د اساسي قانون د پوهاوي په اړه پروګرامونه جوړ کړي.

محمدعارف "ويسا"






جلسه عمومی انجمن جوانان فعال روز پنجشنبه مورخ ۳۰ قوس سال ۱۳۹۶ هجری شمسی تحت رياست محترم الحاج محمداکبر "ستانکزی" رئيس انجمن و وکيل منتخب مردم لوګردرولسی جرګه درمرکزولايت لوګر پيرامون انتخاب رؤسای کميته های انجمن داير ګرديد جلسه با آيات جندی ازکلام الله مجيد توسط محترم ميرويس "شهاب" آغاز ګرديد سپس نيک مل "اميری" منشی انجمن ضمن خوش آمديد به حاضرين مجلس آجندای جلسه را به خوانش ګرفت. که درنتيجه محترم عبدالرحمن "فرقانی" رئيس کميته امورخيريه وحل منازعات ، محترم نثاراحمد "سقيم ستانکزی" رئيس کميته فرهنګی ومطبوعات،محترم محمد صابر رئيس کميته نظارت وارزيابی ومحترم عبدالقدير "هوتک" رئيس کميته معارف وتحصيلات عالی به اکثريت آرا انتخاب ګرديد. به تعقيب محترم احسان الله "احساس" ګزارش کاری خويش را راجع به بهترين های کانکور سال ۱۳۹۶ درولايت لوګر به جلسه ارائيه نمود. سپس اعضای انجمن باالنوبه روی مشکلات های خويش صحبت نمودند. دراخير الحاج محمد اکبر "ستانکزی" به تمام مسئولين کميته های انجمن هدايت داد که تا طرح پلان های کاری خويش را وهمچنان طرح ديزاين کارتهای هويت اعضای انجمن را به جلسه بعدی ارائيه دارند و مجلس به خوانش دعائيه خاتمه يافت. همچنان جلسه شورای رهبری انجمن جوانان فعال روزپنجشنبه مورخ ۱۴ جدی سال ۱۳۹۶ هجری شمسی تحت رياست محترم الحاج محمد اکبر "ستانکزی" رئيس انجمن ووکيل منتخب مردم لوګر درولسی جرګه داير ګرديد جلسه با آيات کلام الله مجيد توسط محترم ميرويس "شهاب" آغازګرديد سپس صالح محمد "صديقی" منشی دوم انجمن ضمن خوش آمديد به حاضرين مجلس اجندای جلسه را بخوانش ګرفت. شورای رهبری اين انجمن حادثه را که بالای کاروان موترهای آقای "ستانکزی" درپادخواب شانه ولايت لوګر اتفاق افتيد به شديد ترين الفاظ تقبيح نموده وانرا يک عمل ناجوان مردانه وغيرقابل بخشش خواند به تعقيب محترم انجنير طاهر احمد "يوسفزی" به صفت رئيس کميته پلان وپاليسی ، محترم حاجی احمد ضيا "عادل" رئيس کميته سپورت ومحترم داکتر عبدالظاهر "اصيل زوی" به صفت رئيس کميته صحی به اکثريت آرا انتخاب ګرديد متعاقباً مسئولين کميته های پلان وپاليسی ، خيريه وحل منازعات حقوقی ،علمی وارتقای ظرفيت ،نظارت وارزيابی طرح کاری خويش را به جلسه ارائيه نمودند. دراخير الحاج محمد اکبر "ستانکزی" ضمن استماع نظريات و پلان کاری کميته ها به مسئول کميته خيريه وحل منازعات هدايت داد که تا يک تن نماينده خويش را غرض بهبود فعاليت اين کميته به بنياد خيريه پيمان معرفی نمايد وبه مسئول کميته نظارت وارزيابی وظيفه سپرد که تا جلسه بعدی طرح نظارت ازپرژه های که درولايت لوګر فعاليت دارند به جلسه ارائيه دارد.

عبدالرحيم "واحدی"

## د لوګر د پوهنې رياست د ۱۳۹۶ ښوونيز کال د عمده فعاليتونو او لاسته راوړنو سرټکي:

د ۱۳۹۶ ښوونيز کال په لومړيو کې د ۶۴۳۴ نجونو په ګډون ۱۸۶۳۸ تنه نوي زده کوونکي په ۳۰۸ تعليمي مرکزونو جذب او تر زده کړو لاندې نيول شوي دي. يو نوی تاسيس شوی ښوونځی د زده کوونکو پر مخ پرانېستل شوی ، دوه لومړني ښوونځي د منځني ښوونځي او يو منځنی ښوونځی د لېسې کچې ته ارتقاع شوي دي. ۱۳۰رسمي ښوونکي ، ۴۵۰ حق الزحمه ښوونکي ، ۴۱ ښځينه باالمقطع ښوونکې ، ۱۴ مامورين او ۱۰۰ د ليک لوست قرار دادي ښوونکي نوي پر دندو ګومارل شوي دي. يوې افغانې ميرمنې آغلې فهيمه ګهيځ د ۱۲۸ زره افغانيو په ارزښت د شهيد محمد سليم لعل ستانکزي له ښوونځي سره د اتو خيمو مرسته کړې ده. د پيمان خيريه بنسټ رئيس الحاج محمد سليم عابد پيمان د ۹۰ زره افغانيو په شخصي لګښت د محمدآغې ولسوالۍ د مغل خيلو او کمالخيلو د نجونو ښوونځيو لپاره د لمريزې انرژي په مټ د اوبو را اېستلو سيستم فعال کړی دی. دغه راز يادې ميرمنې په خپل شخصي لګښت د ملالۍ د نجونو منځني ښوونځي ته د څلورو صنفونو درلودونکې عصري ودانۍ جوړه کړې ده. د مرکز او ولسواليو ۶۳ ښوونځيو ته سپورټي جامې او وسايل وېشل شوي دي. د شهيد محمد سليم لعل ستانکزي ښوونځي ته د ولسمشر ښاغلي محمد اشرف غني د ۲۸ زره امريکايي ډالرو په شخصي لګښت د احاطې دېوال ، د اوبو يوه څاه او پنځه تشنابونه جوړ شوي دي. د کلنګارجهادي لېسې ته د ستانکزي خيريه بنسټ د ۴۵ زره افغانيو په لګښت د اوبو څاه وېستلې ده. د ښوونکي د نړېوالې ورځې په وياړ د پوهنې وزارت او ولايت مقام له خوا ۳۶۵ تنه نارينه او ښځينه ښوونکي په عالي دولتي مډالونو او تقديرنامو ستايل شوي دي. په مرکز او ولسواليو کې د لس ميليونه درې سوه زره افغانيو په ارزښت د ۲۷ ښوونځيو د بيارغاونې او ترميم کارونه پيل شوي دي. د محمدآغې ولسوالۍ څلور بيلا بيل ښوونځي د عرفان موسسې له خوا د يو ميليونه درې لکه نهه ديرش زره افغانيو په لګښت بيا رغول شوي دي. د يونيسف موسسې د لومړنيو ښوونځيو له ښوونکو او زده کوونکو سره د شاوخوا ۷۹ زره امريکايي ډالرو په ارزښت د قرطاسيې مرسته کړې ده. د لوګر په عالي دارالمعلمين کې ښځينه محصلينو ته د څه باندې دولس ميليونه افغانيو په لګښت يوه جلا تدريسي ودانۍ جوړه او ګټې اخيستنې سپارل شوې ده. د کوچيانو د هلکانو لېسې ته د شل ميليونه افغانيو په لګښت د يوې درې پوړېزې ودانۍ د جوړېدو چارې پيل شوي دي ، چې په راتلونکي کال کې به ګټې اخيستنې ته وسپارل شي. دربيو ښوونځيو ته د دولس نيم ميليونه افغانيو په لګښت د احاطې دېوالونو ، ميزونو ، چوکيو ، تشنابونو او د يو شمېر نورو ملحقاتو د جوړونې چارې بشپړې شوې دي. د مرکز او ولسواليو ۵۰۰ نارينه او ښځينه استادانو د ظرفيت لوړولو په برخه کې روزنه تر لاسه کړې ده. د ۳۹۲ نجونو په ګډون ۳۰۴۶ تنه زده کوونکي له دولسم ټولګيو څخه فارغ او د کانکور ازموينې پروسې ته معرفي شوي دي. د نجونو له څلورو لېسو سره د اېشيا فونډېشن موسسې د ۳۲۰۰ امريکايي ډالرو په ارزښت د لمريزوتختو ، بيټريواو برقي وسايلو مرسته کړې ده. د کليو او پراختيا رياست له يو شمېر ودانۍ نه لرونکو ښوونځيو سره د درې ميليونه اته شپيته زره افغانيو په ارزښت د ۸۰ خيمو مرسته کړې ده. د محمدآغې ولسوالۍ ۹۸۳ ښوونکواو د پوهنې کارکوونکو ته د کورونو د جوړولو لپاره د يوې يوې استوګنې نومرې اسناد وېشل شوي دي. د بره کي برک ولسوالۍ ۵۵۸ ښوونکواو د پوهنې کارکوونکو ته هم د کورونو د جوړولو لپاره د يوې يوې استوګنې نومرې اسناد ورکړل شوي دي. د خوشۍ ولسوالۍ ۲۵۳ ښوونکواو د پوهنې کارکوونکو هم د کورونو د جوړولو لپاره د يوې يوې استوګنې نومرې اسناد تر لاسه کړي دي. په بلجيم کې ميشت يوه افغان محمد منصور څاروان د ۲۵ زره افغانيو په ارزښت د ازرې ولسوالۍ د کرنې مسلکي لېسې له پنځو زده کوونکو سره د پنځو نويو بايسلکونو مرسته کړې ده. د کوچيانو په لېسه کې د لومړي ځل لپاره په کمپيوټرونو او ټکنالوژيکي وسايلو سمبال د کمپيوټر زده کړې ښوونيز مرکز فعال شوی. له لومړي ټولګي نيولې تر دولسم ټولګي پورې(۲۹۱۱۰۵)ټوکه نوي راوړل شوي کتابونه پر زده کوونکو او (۸۴۰۰) ټوکه د ښوونکو د لارښود کتابونه پر ښوونکو ويشل شوي دي. له لومړي ټولګي نيولې تر دربيم ټولګي ۲۱۸۹ کيټه د زده کوونکو د قرطاسيې توکي او ۱۰۹۴ کيټه نور د ښوونکو درسي توکي د پوهنې آمريتونو ته لېږدول شوي دي ، چې د روان ژمي پر مهال به وويشل شي. د ۲۶۸ ښوونځيو زده کوونکو ته (۱۱۶۳۸۱) د چنجيو د له منځه وړلو ګولۍ او دغه راز د نجونو په ۶۹ ښوونځيو له پنځم تر دولسم ټولګي پورې ښځينه زده کوونکو ته (۵۲۰۰۰۰) د ويني کمښت د مخنيوي پوليک اسيډ ګولۍ ورکړل شوي دي. له پنځوسو محلي صنفونو سره د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ ادرې يونيسف د شاوخوا ۱۱۴ زره امريکايي په ارزښت د ۶۷ مجهزو خيمو مرسته کړې ده. د مرکز او ولسواليو په ښوونځيو کې يو نيم زر ثمر لرونکي او زينتي نيالګي کېنول شوي دي. د راتلونکي کانکور ازموينې پر شاوخوا درې نيم زره داوطلبانو باندې ، چې څلور سوه يې نجونې دي د ګډون فورمې تر نوم ثبتونې وروسته وېشل شوي او د کانکور ازموينې پروسې ته معرفي شوي دي. د يونسکو له لارې نالوستو کسانو ته د سواد زده کړې ۱۰۰ بيلا بيل کورسونه پرانېستل شوي او ۲۵۰۰ نالوستو کسانو ته دليک لوست زده کړو زمينه برابره شوې ده. د بېسټ موسسې په همکارۍ په بيلا بيلو سيمو کې د چټکو زده کړو ۱۰۶ صنفونه جوړ شوي او اوس مهال د ۱۶۵۰ نجونو په ګډون ۲۶۵۰ زده کوونکي پکې پر زده کړو بوخت دي. بايد وويل شي ، چې د لوګر د پوهنې په برخه کې اوس مهال د نږدې ۵۸ ميليونه افغانيو په لګښت ۳۲ پروژې عملي شوي او د دوو نورو پروژو چارې رواني دي. په يادو پروژو کې ۳ ښوونيزو مرکزونو ته د تدريسي ودانيو جوړول او د ۳۱ نورو ښوونځيو د ترميم چارې شاملې دي.



يادې ټولې پروژې د ملي ، پوهنې وزارت او د هندوستان هيواد په مالی مرسته پلې شوي ، چې ټوليز لګښت يې شاوخوا ۵۷۹۱۰۲۷۹ افغانۍ دي. د دغو پروژو په پلې کېدو سره ، له ۳۰ زرو تر ۳۵ زرو پورې زده کوونکو ته د زده کړو مناسب چاپيريال برابر شوی او هم د پوهنې په برخه کې تر ډېره بريده ستونزې هوارې شوي دي. په پورته ډول د لوګر د پوهنې رياست د ۱۳۹۶ ښوونيز کال د عمده فعاليتونواولاسته راوړنو د راپور سرټکي جوړ او د درنو هيوادوالو او په ځانګړي ډول د لوګر د درنو اوسيدونکو د خبرولو لپاره وړاندې شو.

د لوګر د پوهنې رياست مطبوعاتي څانګه

Weekly MELLI HELLI

6th year | 21 Jan 2018

د امتیاز څښتن: باران میډیا ګروپ
مسوول مدیر: مطیع الله سرور
کتنپلاوي: سیداجان احمدزی او جاویدصدیقی
خبریالان: مصطفی خیراندیش ، محمد عارف ویسا ، نور محمدعابد
عبد الله عرب ، شمس الحق زهیر او رامین عباسی
چاپځای: سعادت مطبعه ، کابل
۰۷۴۴۰۱۰۳۳۳ - ۰۷۹۶۰۵۹۰۰۹
Facebook.com / ملي هيلي
melli_heliweekly@yahoo.com

به جز از سرمقاله مسولیت دیگر نوشته ها به نویسندگان آن بر میگردد.
ملي هيلي در ویرایش مطالب دست باز دارد.
ملي هيلي در بازتاب انتقادات ، پیشنهادات ، نظریات و طرح های سازنده و ملی ارج قایل است
آدرس در کابل: دارالامان روبروی شفاخانه کیور
آدرس در لوگر: جوار کمیسیون انتخابات رادیو پیوند ملی


## د خواشینی پیغام!



په ډېرې خواشینۍ سره مې خبر ترلاسه کړ، چې د خوښۍ ولسوالۍ قومی مشر سیدعنایت الله آغاه له دې فانی نړۍ څخه وکوچېد.

انالله و انا الیه راجعون

اروابناد سیدعنایت آغاه یو سوله غوښتونکی، په هېواد مین او علم پروره مبارز شخصیت و، چې تل یې د خوښۍ ولسوالۍ او لوګر د خیر او فلاح لپاره هڅې کولې. د هغه مړینه د هېواد لپاره ضایعه بولم، ځای به یې زموږ ترمنځ د تل لپاره خالی وی. له پاک رب نه اروابناد سیدعنایت آغاه ته جنت فردوس، کورنۍ او دوستانو ته یې د جمیل صبر غوښتنه کوم.

درنښت

الحاج محمداکبر ستانکزی

## آگاهی!

ریاست صحت عامه ولایت لوگر

مدیریت عمومی بررسی تطبیق قوانین صحی

قرار است دواخانه موفق ملکیت محترم دواجان ولد محمدجان مسکونه ولسوالی برکی برک بالای محترم محمد وزیر ولد میراجان به فروش برسد. اشخاص و افرادی که در مورد کدام ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی ۱۰ یوم میتوانند به مدیریت عمومی بررسی از تطبیق قوانین صحی ریاست صحت عامه ولایت لوگر مراجعه نمایند در غیر آن شکایت ایشان قابل سمع نمی باشد تا در مورد اجرآتیکه در نظر است مرعی گردد.


## مرکز کتاب و قرطاسیه فروشی احمدشاه احمدی

هرنوع کتاب های دینی ، علمی ، تدریسی ، فرهنگی ، ادبی ، سیاسی ، ساینسی ، طبی ، حقوقی ، معلومات کانکور و همچنان قرطاسیه باب دفاتر ، پوش و پرس اسناد ، فوتوکاپی رنگه و ساده ، لوازم ورزشی وغیره را از مرکز کتاب و قرطاسیه فروشی احمدشاه احمدی بدست آرید.



شماره تماس: ۰۷۷۷۷۰۸۰۰۷

آدرس: مرکز ولایت لوگر ، مدینه مارکیت ، سرک مسجد جامع شهر پل علم ، جوار کتابخانه فاروقیه



## نگهداشتن تندرستی دهان و دندان ، ضامن سلامتی است!
## کلینیک دندان صوفی زاده



دوکتور محمد ایمل صوفی زاده ستوماتولوگ پوهنتون طبی کابل ، معالج امراض جوف دهن و دندان با تجربه هشت سال ، موظف در شفاخانه افغان جرمن

کلینیک دندان صوفی زاده با ارایه این خدمات در خدمت هموطنان عزیز خویش قرار دارد:

۱ - غرص دندان به سیستم بین المللی بریج بطور معیاری و استندرد
۲ - ساخت هرنوع پوش های طلا، نقره، استیل، پورسیلین، وسی سی پلیت
۳ - پرکاری دندان ها توسط شعاع لیزر
۴ – و پاکاری دندان ها توسط ماشین الیتراسونیک

اوقات کاری: بگونه ۲۴ساعته

تقدیم خدمات صحی ، باکیفیت و باضمانت ۱۰ ساله در کلینیک دندان صوفی زاده

آدرس: بازار ولسوالی چهار آسیاب مارکیت نیازی منزل دوم / شماره های تماس: ۰۷۸۹۸۲۰۰۴۰ - ۰۷۷۷۷۵۴۳۷۷



مژده مژده

د فعالو ځوانانو ټولنه
انجمن جوانان فعال

مرکز آموزشی رایگان
نوید تازه
خبر خوش برای جوانان لوگر از سوی انجمن جوانان فعال

افغانستان کشوریست غنی از استعداد های خارق العاده ولی نهفته ، که در اثر کشمکش ها ونابسامانی های موجود در این سرزمین فرصت مساعد نگردیده است که جوانان ما به تعلیم دسترسی خوب داشته باشد بنا بر این مرکز آموزشی انجمن جوانان فعال اکنون به فعالیت آغاز نموده و در بخش های ذیل بگونه رایگان شاگرد می پذیرد:

۱ ریاضیات
۲ انگلیسی
۳ کمپیوتر

به سمع آنعده شاگردان اعم از طبقه ذکور و اناث که میخواهند در این بخش ها اشتراک نمایند رسانیده میشود که ثبت نام به تاریخ ۱۳۹٦/۱۰/۲٦ از ساعت هشت صبح الی چهار عصر همه روزه جریان دارد.

شماره تماس: ۰۷۸۳۲۹۵٤۷۹

ادرس: مرکز ولایت لوگر شهر پل علم تعمیر رادیو پیوندملی جوار کمیسیون مستقل انتخابات





## ما متفاوت می اندیشیم!

بحث های داغ و شنیدنی را از پیوندملی تعقیب نمایید همکاران ما با همت بلند نشان میدهند که با هزینه کم و ناچیز هم میشود، کار مفید و ارزشمندی را انجام داد. پیوند فراز و فرود های زیادی را پیموده و خوشبختانه موفقانه این راه را طی کرده و از حرکت نه ایستاده است.

رسانه دیروز ، امروز و فردا



شرکت تجارتی وساختمانی فاروق ستانکزی
FAROOQ STANIKZAI TRADING & CONSTRUCTION CO. LTD.

## شرکت تجارتی وساختمانی
## فاروق ستانکزی



دفاروق ستانکزي تجارتي او ساختماني شرکت

د فاروق ستانکزي تجارتي او ساختماني شرکت وياړي چې د بيلا بيلو هيوادونو څخه د ډول ډول سمنټ ، قیر او د ساختماني ماشین آلاتو په واردولو سره د هېواد والو په خدمت کې دی.

د فاروق ستانکزي تجارتي او ساختماني شرکت د کیفیت او معیار نمونه

الحاج محمد حبیب ستانکزي
د فاروق ستانکزي د تجارتي او ساختماني شرکت رئیس

پته: کابل بګرامی حسین خیل
اړیکشمېره ۰۷۴۷۲۲۲۲۴۹